# Prospects of Pashto Language Policy and Planning in Pakistan: (A historical analysis)

# پاکستان کښې د پښتو ژبې د پالیسي سازۍ او منصوبه بندۍ لید لوري: (یوه تاریخي تجزیه)

**Dr. Barakat Shah Kakar**★

**Abstract**

As an outcome of European Colonialism, the modern nation state tends to categorize languages of people on the larger spectrum that keep elite language [s] in the center and discard the wretched language [s] to the periphery. This paper offers a perspective of the voyage of Pashto language in the power corridors of language policy and planning in Pakistan. The position and condition of Pashto Language gathers a great weight of political economy and discourse on identity in Pakistan. The study of colonial and post-colonial approaches to Pashto as language of the most troublesome people on the greater fault line of 19th and 20th century great game and cold war respectively show that it has been contained and there are some historical developments in the post-colonial era of Pakistan in which Pashto amongst other native languages is provided space in the educational paradigms at primary levels.

This paper tends to through light on Language planning which consists of language's status planning, corpus development and acquisition. Endeavors for imparting Pashto language as part of educational practices after 18th constitutional amendment has been discussed at levels of KPK and Baluchistan.

**Keywords**: Colonialism, Education, Language Policy, Pashto Language, Status Planning

## د ژبو پالیسۍ ته یوه کتنه:

کله چې مونږ د پاکستان په ریاستي تاریخ کښې د ژبو د ارتقا پړاؤنه او د پرمختګ نخښې نښانې ګورو، نو مونږ به حتما تعلیمي پالیسۍ ته رجوع کوو، یا بیا د کلتور د پالیسۍ وجاج اخلو. د تعلیمي پولیسیانو په حقله خو ډېر ریاضت شوے دے، تر کال ۲۰۰۹ پورې هر حکومت هغه که جمهوري ؤ که آمرانه، د ځانګړې تعلیمي پالیسۍ جوړولو

★ Assistan Professor Department of Pashto University of Baluchistan, Quetta.

هڅه ئې کړې ده، د پخوانۍ پالیسي ترجیحات، هدفونه، مرامونه، ترجیحات او لید لوري ئې له پامه اچولي دي .و بل پلو ته د کلتوري پالیسۍ په حقله هېڅ ډول پرمختګ نه دے شوے،البته په کال ۲۰۱۲ کښې پر قومي کلتوري پالیسۍ کار پېل شوے دے . د لوک ورثه، او پاکستان نیشنل کونسل آف آرټس لخوا د قومي کلچر پالیسۍ د جوړولو په حقله هلې ځلې روانې دي، خو په رسمي توګه ئې لا پرانستنه نه ده شوې . خو دغه پالیسي اوس لا قانوني بڼه نه ده خپله کړې . مطلب دا چې د تعلیم بېلابېلې پالیسیاني جوړې شوې دي، د کلتور پالیسي د جوړېدو په مراحلو کښې ده، خو د ژبې په حقله هېڅ ډول ځانګړې پالیسي وجود نه لري.

د ژبو د منصوبه بندي او پالیسي سازي ته لنډه کتنه:

د ژبو د منصوبه بندۍ او پالیسي سازۍ اوس مهاله بحث ( Contemporary Discourse ) ډېر پخواني بنیادونه نه لري، ولې چې د ژبو د حالت او حېثیت د تعین قانوني او آئیني بڼې مونږ ته په خصوصیت سره په تیرو دوو صدیانو کښې په نظر راځي. د یورپ د استعماریت د پېوسته پینځه سوه کلونو په نتیجه کښې چې کله قامي ریاست د نړۍ د یوائینې حقیقت په څېر زېږون وکړ، نو له هم دې ځایه د قومي ژبو/ژبې، کلتور، ادب، رنګونو، لوبو، آرټس او داسي نور تصورات په وجود کښې راغلل. په نولسمه او شلمه میلادي صدۍ کښې د نوي قومي ریاست د وجودسره سم،د لرغونو اولسونو د ژبو د ژغورني ستونزي هم را منځ ته شوې. د دویم نړۍ وال جنګ وروسته چېرې چې د یورپي استعماریت او شکېلاک ګرۍ په ترخ کښې درا ټوکېدلي ټولنیزو علومو محاسبه وشوه، هلته د محکومو اولسونو د ژبو او کلتور د ژغورني ستونزه هم راپورته شوه، د یورپ او امریکه په ډېرو ایالتونو کښې د "لینګویج پلېننګ" یا د ژبې د پرمختګ لپاره د منصوبه بندۍ کار پیل شو.

البته پخوانیو امپراتوریانو هم د ژبو په حقله حساسیت درلود خو د هغه تر شا بنیادي لامل به قومیت کم او د مذهبي متنونو روایت او د تهذیبي مرکزونو تاریخي تفاخر زیات ؤ. په لرغوني یونان کښې یوناني ، او لاطیني، د هند د آریایي واکمنانو په لرغونې دوره کښې د "سنسسکرت" او د اسلام څخه وروسته په جزیره عرب او نورو سیمو کښې د عربي ژبې حېثیت نېغ په نېغه د مقدس متونونو او الهامي کتابونو نتیجه وه . البته د هند مغول

امپراتورۍ چې واکمنان ئې ترکي ويونکي وو، پر فارسي ژبه تکيه کوله او د دربار پر فارسي ژبه تکيه يو داسي داخلي او فطري حېثيت خپل کړے ؤ چې د سيکهانو په امپراتورۍ کښې هم فارسي د دربار او سرکار ژبه وه . البته پښتو ژبې دربار او سرکار ته کله لاره کړې موندلې ده په دې حقله مونږ ته د ډاکټر طارق رحمان په يوه تحيقيقي مقاله کښې د عباس خان سرواني د تاريخ شير شاهي په حواله دا حقيقت مخي ته راځي چې يواځې د شېر شاه سوري په لنډ ګنډ وخت کښې پښتوژبې دربار ته لاره موندلې ده (1).

د دې پورتني بحث څخه يوه خبره دا خو جوتېږي چې د ژبې او طاقت تر مېنځ يو ژوندے ترون شته دغه ترون پخواهم وجود درلود او په اوسنے زمانه کښې ئې هم لري(2) البته په اوسني وخت کښې چې چېرې په يوۀ رياست کښې بېلا بېل قومونه، نسلونه او کلتوري او تهذيبي ډلې وسېږي نو د يوه نسل، قوم يا ډلې ژبې ته دا وړتيا ورکول چې هغه به قومي وي او نورې ژبې به مقامي، ځائي يا محلي وي، پخپله د ژبې منصوبه بندۍ اصطلاح په لومړي ځل مشهوره ژبپوهه "اينر هاګن" کارولې ده، چې په کثير النوع ټولنه کښې د ليکوالانو د رهنمائي لپاره د ژبې ليک دود ، ګرائمر او لغت تيارولو ته د ژبې د منصوبه بندۍ نوم ورکړے دے .

"Language planning refers to deliberate efforts to influence the behavior of others with respect to the acquisition, structure, or functional allocation of their language codes "(3)

ژباړۀ: د ژبې منصوبه بندي يو داسي شعوري هڅه ده چې د ژبې د زده کړې (اکتساب) ، ژبني ساخت او جوړښت يا د کارولو د بنيادي کوډونو په حقله د نورو خلکو رائې متاثره کوي .

اوس دې خبرې ته ځير کېږو چې د ژبې د منصوبه بندۍ په لړ کښې کوم ګامونه اخيستل کېږي . د نړۍ زياتره ژبپوهان په دې يوه خوله دي چې د ژبې د منصوبه بندۍ په عمل کښې درې بنسټيز ګامونه يا مرحلې منځ ته راځي چې پکښې ۱) ژبې د حېثيت منصوبه بندي، ۲) د ژبې د زده کړې او تحصيلاتو منصوبه بندي او ۳) د زده کونکو يا لوستونکو لپاره د موادو تياري .

د ژبې د حېثيت منصوبه بندي:

په هر رياست کښې اولس بېلا بېلې ژبې وائي، د ځينې ژبو ويونکي ډېر وي ، د ځينو کم ،

ځيني ژبې يوائې واکداران او حاکمان وائي، ځيني بيا په کلو، باندو، کوڅو او ورشوگانو کښې وئيل کېږي . که څه هم ژبه په يو ټولنيز چاپېريال کښې زېږون کوي ، دا يواجتماعي انساني تخليق دے . خو د نړۍ په تاريخ کښې د ژبو د حېثيت سوال په وار وار سر راپورته کړے دے . ځيني وخت د يوۀ بل ولات ژبه راشي، د باچا و دربار ته لاره وکړي او په هم هغه دربار کښې پر محلي او لرغونو ژبو مځکه داسي سره کړي چې هغه له درباره بې دخل شي او د تهذيب د مرکزي ښارونو څخه لرې و غرونو او رغونو ته مخه وکړي. لنډه دا چې لکه څه ډول چې انسانان بېلا بېل ټولنيز حېثيتونه لري ، د رحمان بابا د شعر په مصداق ، "څوک اعلی دي ، څوک اوسط دي، څوک ادنا" هم دغۀ ډول په اوسني نړيوال کلي کښې د ژبو د حېثيت حالت هم داسي دے . يوه ژبه که چېرې ډېر لوے اکثريت وائي او هغه د تعليم ،دفتر، ابلاغ ، رسنيو او قانون ژبه نه وي ، نو ئې ډېر ژر ويونکي و هغه ژبه ته لاره کوي په کوم کښې چې دا هر څه ليکل کېږي . د بېلگي په توگه په پاکستان کښې د اوسني سرشمېرنې له مخي ۷٪ پاکستاني شهريان په نسبي توگه اردو ويونکي دي ، خو د اردو ژبې ليک، و لوست د پنجابي، پښتو،سرائيکي، سيندهي، بلوڅي او نورو ټولو ژبو څخه زيات دے . وجه ئې هم هغه ده چې اردو د تعليم قانون، دفتر او رسنيو ژبه ده او دا نورې ژبې (پرته د سيندهي) د هېڅ رسمي نظام برخه نه دي .

د يوې ژبې د رتبې يا حېثيت تعين په دې پوري هم اړۀ لري چې آيا هغه ژبه به قومي ژبه وي، که صوبائي، يا علاقائي. آيا هم دغه ژبه به تعليم او ابلاغ ژبه وي که يا ؟، په هر حال کښې دا پرېکړه د رياست هغه واکداران کوي چې د ژبې، تعليم کلتور او ابلاغ پاليسيانې او تگلارې جوړوي . که چېرې مونږ په پاکستان کښې د ژبو تر منځ د حېثيت يا رتبو تقابل وکړو نو په دې به مو ښه سر خلاص شي چې هغه ژبې چې ويونکي ئې د پاکستان له جوړښته وختي هم پر دې سيمو مېشته ؤ، پخوا هم په اکثريت کښې ؤ او نن هم دي ، خو د ژبې حېثيت ئې هغه نه دے لکه د اردو يا د فرنگي نوآبادياتي ژبې انگريزي چې دے . بنگالي، پښتو ، پنجابي، سرائيکي، بلوڅي ، براهوي او نورې لرغونې ژبې چې دلته وئيل کېدې او په نوآبادياتي پېر کښې د تعليم ، قانون او د ابلاغ ژبې نه وې ،د پاکستان د جوړښته وروسته ئې هم حېثيت هغه ډول پاتي شو . په دې حقله د بنگالي او سندهي ملت پالو خپل دريځ څرگند کړ او هغوي په کلکه پر مېدان و درېدل . د پښتو ژبې د تعليمي

کولو لپاره د باچا خان د خدائي خدمت ګار غورځنګ پر خپل ځاے ډېر د ستائلو او ځېړلو وړ دے ، ولې چې په يوه مستعمره نړۍ کښې د خپلې ژبې له لارې د خپل کلچر، تاريخ ، ادب ، رواياتو او ټولنيز ژوند په حقله زده کړې کول د غلامۍ د جغه ځخه غاړۀ ايستل ؤ. د ۱۹۳۰ په لسيزه کښې د ډېرو نامساعدو حالاتو باوجود باچا خان او د هغه ملګرو د آزادو مدرسو او ښوونځيو د پرانستلو کار ته دوام ورکړ . ډاکټر وقار علي شاه خپل کتاب کښې ليکي چې، د باچا خان په آزادو سکولونو کښې پښتو د ښوونې او روزنې ژبه وه خو د هند د وېش ځخه وروسته هغه ټول (۱۰۲) ښوونځيان يا خو بند کړل شوه يا بيا په مدرسو بدل شو(4)

کله چې مونږ په رياستي تاريخ کښې د ژبو د ارتقا پړاؤنه او د پرمختګ نخښې نښانې ګورو، نو لا محالا مونږ تعليمي پاليسۍ ته رجوع کوو، يا بيا د کلتور د پاليسۍ و لورته زمونږ سترګې کړې شي۔ د تعليمي پاليسيانو په حقله خو ډېر رياضت شوے دے ، تر کال ۲۰۰۹ پورې هر حکومت هغه که جمهوري که آمرانه، د ځانګړې تعليمي پاليسۍ جوړولو هڅه ئې کړې ده، د پخوانۍ پاليسي ترجيحات، هدفونه، مرامونه او ليد لوري ئې له پامه اچولي دي ۔ بل پلو ته د کلتور ي پاليسۍ په حقله هېڅ ډول پرمختګ نه دے شوے۔ د کال ۲۰۱۲ ځخه پر قومي کلتوري پاليسۍ کار پېل شو ، خو اوس لا د بشپړه کېدو په مرحله کښې ده. مطلب دا چې د تعليم بېلابېلې پاليسيانې جوړې شوې دي، د کلتور پاليسي د جوړېدو په مراحلو کښې ده، خو د ژبې په حقله هېڅ ډول ځانګړې پاليسي وجود نه لري۔

نو مونږ به د تعليمي پاليسۍ له چوکاټۀ د رياست د ژبنيو د پاليسيانو جاج اخلو. نومړے ژبپوهه ډاکټر طارق رحمان په دې اند دے چې په نومبر-دسمبر ۱۹۴۷ کښې چې کوم لومړے تعليمي کانفرنس په کراچۍ کښې وشو،هم دغۀ کانفرنس د پاکستان د ښوونې او روزنې په حقله ژبني پاليسي بنسټ وګرځېد. هغه ليکي:

"The cardinal point of this policy were to make Urdu 'lingua franca of Paksitan' and to teach it 'as compulsory language in schools"(5)

ژباړۀ: د دغه پاليسۍ بنيادي نکته دا وه چې اردو بائيد د پاکستان د 'رابطې ژبه'و ګرځول شي ، او بائيد په ښوونځيو کښې د لازمي مضمون په صفت و منل شي .

په دې کانفرنس کښې اُردو د میډیم آف انسټرکشن نه ده تجویز شوې ، دلته داخبره په پام کښې نیول پکار ده چې د اردو لازمي کول که یوه خوا ته د پاکستان د نورو محکومو قومونه په زړونو او دماغونو کښې شکونه پېدا کړي ؤ، نو بل پلو ته ئې د دې نوي جوړ شوي ریاست تر ټولو لویې ژبنۍ ډلې "بنګالیانو" په زړونو کښې هم کرکه زېږولې وه. د ډهاکه پوهنتون نوموړے لیکوال او ښوونکے ډاکټر رفیق اسلام په خپله مقاله کښې د هم دغه خبرې غبرګون څه داسې کړے دے .

“The freedom struggle from Bangladesh Originated from the Bengali Language Movement, in a way this is correct as the basic inspiration of the freedom struggle of the Bengali speaking people of Pakistan came mainly from linguistic nationalism,…Statistically Bengalies were 55% of total population, … and the Urdu speaking people of Paksitan were not more than 3% of total population”.(6)

ژباړۀ: داخبره په یوه حواله مناسبه ده چې د بنګله دېش د آزادۍ غورځنګ په پاکستان کښې اوسیدونکو بنګالیانو د د بنګالي ژبې د ژبني قامولۍ د غورځنګ څخه الهالم اخېستے دے ، ... ولې چې د شمار له لحاظه بنګالیان د پاکستان **۵۵**٪ وو ... او اردو ویونکي د پاکستان د آبادۍ له **۳**٪ څخه ذیات نه وو.

بل پلو ته د پاکستان د جوړښت په سیاسي مبارزه کښې چې کومه ونډه د ډهاکې یا بنګال وه ، هغه د بل قوم په نصیب نه ده شوې ،ولې چې برتانوي هند کښې تر ټولو لومړے سیمه چې مستعمره شوې ده هغه "کلکته" وه چې د متحده بنګال پائي تخت ؤ، او بیا د هند د پراخي امپراتورۍ تعلیمي، تهذیبي، سیاسي او تر ډېر حده عسکري ارتقا هم دلته وشوه، ځکه د دې سیمې خلکو ډېر ژر انګلیسي ژبه زده کړه او د انګریزي استعمار سره ئې نزدې تعلق پېدا کړ،اور دلته ډېر ستر ادیبان، او د سیاست د مېدان غښتلي مبارزګر پېدا شول. د هندوستان د وېش پر وخت د بنګالیان د تعداد د زیاتوالي سره سره یو بل لامل نامتو ټولنپوهه ډاکټر حمزه علوي هم په ګوته کړے دے ، د هغۀ د نظر مطابق چې برتانوي هیند په ډېرو سیمو کښې "تنخوا داره طبقه" پېدا کړه،

“That class was the product of the colonial transformation of Indian social structure in the nineteenth century and it comprised those who had received an education that would equip them for employment in the expanding colonial state apparatus for scribes and functionaries, the men (for few women were so employed) whose instrument of production was the pen”.(7)

ژباړه: په نولسمه میلاد صدۍ کښې (انګریز) استعمار د مستعمر هندوستان ټولنیز

جوړښت (ساخت) د (تنخواداره) ډلې په سوب بدل کړو، په دې کښې هغه څوک شامل وو چې تعليم ئې د روزګار لپاره کړے ؤ، چې هغوي د استعماري رياست لچ و بازو جوړ شي، دا هغه کسان (د ځينو ښځو په شمول) دي چې د پېداوار اوزار ئې قلم ؤ.

په بنګال کښې د رياست څخه مياشتانه تنخوا اخيستونکي خلق زيات ؤ، نو ځکه ئې په دې ښه سر خلاص ؤ چې د ژبې تعليمي يا دفتري کېدل، يا نه کېدل د هغوي پر معيشت، سياست، او ټولنيز رغښت څه ډول اغېزه کوي. هغوي د ژبې او شناخت و سياست ته په ډېر ژور نظر کتل ځکه له هم دغه ځايه د بنګالي ژبې د وهلو او د يوه اکثريت په اقليت بدلېدلو فطري ويره را و پارېدله. ځکه نو د بنګال هغه اکثريت چې تنخواداره ؤ، دغه ناانصافي ئې د زغملو وړ ونه بلله، په کال ۱۹۴۸ کښې د اردو په ضد د بنګاليانو "بهاشا اندولن" جوړ شو، چې د پاکستان څخه ئې د ژبې بنيادي انساني حق او په تعليمي عمل کښې ئې خپله ژبه د روزني او ښووني لپاره و غوښته. خو د اُردو مرغک پېرے د رياست د پاليسي جوړونکو پر مغزو ناست ؤ، په کال ۱۹۴۹ کښې اردو د ملک د پلازمينې، يعني کراچۍ د ميونسپلټۍ ژبه شوه، د روډونه، هسپتالونو، دفترونو بوډونه په اردو کښې ليکل پېل شول، د ژبو دمنصوبندۍ چې کوم منل شوي مراحل ؤ، پر هغه په دوامداره توګه کار پېل شو.

خو بل پلو ته کومه ستونزه چې د نولسمې صدۍ په مېنځ کښې د اردو - هندي په بڼه را مېنځ ته شوې وه، اوس دا مهال د اردو بنګلا شخړۀ روانه وه. د بابا اردو مولانا عبدالحق په مشرۍ کښې چې د اُردو کميټۍ څلورمه ناسته پر دې پا ے ته ورسېده چې ځايي ژبې به د قومي ژبې سره هم اهنګ کېږي، او ټولې ژبې به د خپل اصل په ضد دعربي ټيکسټ ته اوړل کېږي. په دې حقله په بنګال کښې هڅې پېل شوې چې د بنګالي ژبې ښووني دي د عربي ژبې په مرسته وشي. يوه لور ته په بنګال کښې دهڅې رواني وې چې "بنګالي"له ديو ناګري ليک دود څخه و عربي (نستعليق) ته را راغبرګه کړي او هغه د هندي له اثره پاکه او د عربي په لغتونو و پسولي او په اصطلاح "سوچه ئې کړي"، و بل پلو ته بنګالي وطن پالو د دې په ضد کلکه مبارزه پېل کړه.

د رياست د دې پاليسيانو په عام اولس کښې قهر او غصه ورځ تر ابله نوره زياته کړه، د انګريزي محاورې په مصداق دا هغه وروستۍ خلے ؤ چې د اوښ ملا ئې ماته کړۀ. ځکه د

دې پرېکړې یوه میاشت وروسته پر ۲۱فروري۱۹۵۲ کښې یوه خونړۍ پېښهٔ رامنځ ته شوه چې پکښې د ژبې حق غوښتونکي ګڼ شمیر بنګالي لوستونکي د پولیسو لخوا ؤ وژل شول. له دې ورځې وړاندې بیا د مشرقي او مغربي پاکستان تر مېنځ تعلقات معمول ته نه راغلل چې په نیجه کښې ئې بنګله دیش په وجود کښې راغلے.

په پاکستان کښې د پښتو ژبې د بقا او ارتقا مزلونه:

په مستعمر هندوستان کښې که څه هم سندهي د 1850 د لسیزې څخه د تعلیم ژبه وګرځول شوه، خو د پښتو و لورته پاملرنه خصوصاً د برتانوي سامراج په تعلیمي یا سفارتي ترجیحاتو کښې ډېره وروسته راغلې ده ـ مېجر راورټي په خپل پښتو انګریزي قاموس کښې و انګریزي افیسرانو ته د پښتو د زدکړې بلنه ورکوي ، او په لومړي انګریز - افغان جنګ کښې د انګریزانو د ماتې اصل لامل (محرک) د ژبې نه زده کول او پر هغو جاسوسانو تکیه کول ګڼي چې یواځې فارسي یا دري ئې زده وه او د پښتو په شُد بُد نه پوهېدو. بیا د هم دې احساس په ترڅ کښې یوه کمیټۍ د انګریزي چارواکو لخوا جوړه شوې ده چې په کال 185 کښې ئې په خپل رپورټ کښې پښتو زده کول لازمي ګڼلې ده، دغه رپورټ پښتو د شمال مغربي صوبې د رابطې ژبه بللې ده. (8)

بهر حال دا خبره پر خپل ځاے د منلو ده چې د یورپ څخهٔ راغلیو د مسیحي مذهب تبلیغ کونکو په لومړي ځل پښتو زده کړې ده او دلته ئې په پښتو ژبه کښې د زبور او انجیل ژباړې کړې دي. په د نولسمې صدۍ د دویمي برخې څخه پښتو لیک، لوست او وئیل پر هغو انګریزي افیسرانو باندې یو بنیادي شرط و تړل شو څوک چې د پښتنوپه سیمو کښې د پولیټیکل ایجنټ یا د هغه د استازي یا مرستیال په حېث کار کول غواړي، له هم دې ځایه په ژبه کښې د موادو د تیارولو کار پېل شو، قاموسونه، د لیک ولوست تربیتي مینول، مواد اود وختي لیکل شوي کتابونه پلټنه نوره په تیزي پېل شوه.

که یوه لورته پښتو او نورې ځائي ژبې زده کول د انګریز انتظامي استازو زده کول پېل کړۀ، نو بل پلو ته په اولسي سویه پښتو د تعلیم ژبه ونه ګرځول شوه. خصوصا د دویم افغان-انګریز جنګ په ترڅ کښې چې کله د ګندمک موظنامه وشوه او د هغه وروسته بیا د ډیورنډ لائین د کرښي په ترڅ کښې د پښتنو یوه لویه برخه د افغانستان څخه رابېله کړل شوه، د دې وروسته د انګریزي استعمار ژبني پالیسي خصوصا د پښتو په حقله ډېر ناروا

پاتې شوې ده. د
انګریز استعمار د ډیورنډ کرښې و شرقي لورته پراته پښتانه د هندوستان په وجود پورې پیوند کول غوښت، دغه پیوند تر هغه امکان نه درلود تر کله چې د پښتنو تر مېنځ تاریخي، کلتوري ، ټولنیز او ادبي بیګانګیت پیدا نه کړي ، دغه بیګانګیت یوائې د ژبې د وژلو یا ختم کولو په سوب امکان درلود .
هند د وېشه وروسته چېرې چې د بنګالي او سندهي ژبو د شناخت، تشخص او رتبې (حېثیت) ستونزې راپورته شوې، هلته د باچاخان په ښوونځیو کښې هم د پښتو ژبې زور اوربدل کېدے . خو کله چې په کال 1948کښې د صوبې استبدادي وزیراعلی قیوم خان کشمیري پر خدائي خدمت ګار تنظیم بندیز و لګاوۀ او دغه ښوونځیان یا خو بند شو یا بیا وروسته په مدرسو بدل شو.
صاحبزاده عبدالقیوم خان چې دخپلو تعلیمي اصلاحاتو په سوب د پښتونخوا (سرحد) سرسید هم ګڼل کېږي د پښتو روزنې او ښوونې په حقله یوه عجوبه مفروضه جوړه کړه. په کال 1930 کښې صاحبزاده عبدالقیوم یوه داسي پلټنه کړې ده چې له کبله ئې داحقیقیت جوتېږي چې په اکثریتي پښتني سیمو کښې خلک اُردو د روزنې او ښوونې ژبه غوره بولي . په شمالي پښتونخوا کښې د باچا خان د خدائي خدمت ګار غورځنګ اثرات پاتي وو، او بل پلو ته پښتون قامپاله ګوندونو پښتو دخپل قومي شناخت یو بنیادي علامت برخه ګڼلو، ډاکټر طارق رحمان په خپله یوه مقاله کښې لیکي چې پښتو په کال ۱۹۸۴ کښې په ځینو وسکولونو کښې رائج شوه ، خود پښتنو له لوري دا خطر محسوس شو چې د پښتو زده کړې په سوب به د هغوي بچېان د ملک د نورو قومونو په مقابل کښې شاته پاتې شي ، دغه عمل ته ډاکټر طارق رحمان (Ghettoization Potential) د نوم ورکړے دے(9) ،چې معنا ئې دا ده چې د ریاست په ژبه نه پوهیدل خپل ځان په یوه کلا کښې را ایشارول دے .
په هم دغه وخت کښې په سوات ریاست په سلګونو ښوونځیانو په پښتو کښې ډېر موثره درس ورکاوه. ډاکټر طارق رحمان په خپله یوه بله تحقیقي مقاله کښې د سوات د ښوونځیانو په حقله د یوې پلټنې ذکر کړے دے . په دې لړ کښې په کال 1970کښې د سوات د شپږو ښوونځیانو ژوره تحلیلي مطالعه شوې ده چې له کبله ئې تر80 فیصده زیات لوستونکي په پښتو ،لیک ولوست او د حساب کتاب کولو جوګه
(10)

د پاکستان په آئین کي د ژبو د حالت او حېثیت بحث:

کله چې مونږ په یوه دید قومي ریاست کښې د ژبو د حېثیت اندازه کوو نو د هغه تر ټولو رښه هینداره له مونږ سره دهغه قام دستور یا آئین وي، چې د قامونو او اولسونو د بېلا بېلو حقونو سره سره ئې د هغوي د ژبې او کلتور د حق تعین هم کړے وي. د پاکستان د1973 آئین په دې حقله ښه وضاحت کوي. د آئین 251 ماده د انګریزي، اُردو او لرغونو ژبو(چې ورته اوس ځایي یا مقامي ژبې وئیل کېږي) د حېثیت تعین په څه داسي ډول شوے دے. د دې مادې درې ذیلي برخې (اجزا) دي. لومړے جز ئې څه داسي دے:

The National language of Pakistan is Urdu, and arrangements shall be made for its being used for official and other purposes within fifteen years from the commencing day (11).

ژباړه: د پاکستان قومي ژبه اردو ده، په دې حقله چې اردو دفتري او د نورو (مهمو) معاملاتو لپاره و کارول شي، بائیدچې (د نن ورځي څخه ) د پینځلسو کلونو په مدت کښې دا کار بشپړه شي

د هم دغۀ لومړې جز لاندي چې کوم دوئم جز دے هغه دا ادعا کوي چې تر کومه (عبوري پېر) وخته چې اردو د دې قابله کېږي چې هغه دي د دفتري ژبې ځاے ونیسي. "انګریزي" به د دفتري ژبه په صفت کاورل کېږي

د دې وروسته دریم جز ئې زمونږ د بحث سره بیخي ځرګند تعلق لري. د دې لپاره چې خبره لږ نور واضح شي، د دې مادې درېیم جز دلته شریکوم.

Without prejudice to the status of the National language, a Provincial Assembly may by law prescribe measures for the teaching, promotion and use of a Provincial language in addition to the National language (12).

ژباړه: د قومي ژبې د حثیت څخه د تعصبه پرته، یوه صوبائي اسمبلي کولے شي چې د قومي ژبې د ودې سره سره د صوبائي ژبې د تعلیم او پرمختګ لپاره قانون سازي وکړي.

دریم جز ئې د لرغونو ژبو د تقدیر پرېکړه کوي، چې د قومي ژبې څخه د تعصب نه کولو په شرط به صوبې په ځایي او قومي ژبو کښې د روزنې او ښوونې انتظام کوي. د دې څخه یوه خبره دا جوتېږي چې په آئین کښې که څه هم د مورنیو ژبو حېثیت تر ټولو ټيټ او واجبي غوندي دے خو، بیا هم یو څه ګنجائیش شته چې د صوبې حکومتونه دي له دې څخه ګټۀ واخلي، خو پښتو او نورې لرغونې ژبې د ابلاغ، صحافت، منډۍ او سفارت ژبې جوړې نه کړل شوې، کومه وېره چې بنګالیانو د ملک د جوړېدو سره سم احساس کړې وه، هم هغه

قانې په اوس مهالو مورنيو ژبو و شوې او حېثيت ئې د اردو او ناګريزي ژبو په مقابل کښې هېڅ هم نه دے۔

د پښتو ژبې د ودې، پرمختګ او روزنې ګامونه:

پر قومي سويه د ټيټ معاشي، تعليمي، صحافتي حېثيت باوجود ،د مقامي ژبو د ودې او پر مختګ لپاره په خېبر پښتونخوا او هم په بلوچستان ايالت کښې ځينې هلې ځلې شوې دي چې ذکر ئې البته دلته کول لازمي دے ۔

د پښتو ژبې د زده کړې (اکتساب) تګلارې او د موادو تيارې:

لکه څه ډول چې وختي ذکر وشو چې د ژبې په منصوبه بندۍ کښې درې بنيادي مرحلې وي، اول د ژبې د حېثيت ستونزه ده،چې مونږ وربانديې په تفصيل خبره وکړه، د دې وروسته د ژبې د روزنې او ښوونې استطاعت زياتول او دريم د ليک ولوست لپاره د موادو تيارې ده، مهمه خبره چې په ذهن کښې نيول پکارده هغه دا ده چې د ژبې د منصوبه بندۍ وروستۍ دواړه برخو په اصل کښې پر لومړۍ برخه تکيه کوي، يعني داسې چې حېثيت د ژبې پر تعليم او موادو نېغ په نېغه اثر اچوي۔

کله چې مونږ د پښتو ژبې د ښوونې او روزنې په حقله کوؤ نو دلته مونږ وينو چې د پاکستان د جوړېښته يو اويا کاله وروسته هم د ژبې د روزنې او ښوونې کار هغه ډول ګړندئ نه دے پاتې شوے لکه څه ډول چې پکار ؤ، په خيبر پښتونخوا کښې که څه هم پښتو په ښوونځيو کښې د يو لازمي مضمون په توګه شامله ؤه، خو د پاکستان په آئين کښې د اتلسم ترميم له لارې چې صوبو (ايالتونو) ته کوم اختيار ورکړل شو په هغه کښې د تعليم منصوبه بندي او پاليسي جوړونه هم ده۔د اتسلم ترميم د آئيني ګنجائيش په ترڅ کښې په د تعليمي کال ۲۰۱۱څخهٔ پښتو د خيبر پښتونخوا په هغه ۱۷ ضلعو کښې د يو لازمي مضمون په حېث متعارفه شوه چې پکښې سوات، صوابۍ، بونير، لوړدير، کوز دير، مردان، چارسده، شانګله، مالاکنډ، نوشهره، هنګو، لکي مروت ، کرک ، بنو ، ټانک ، کوهاټ او بټګرام شامل دي ، باقي مانده ۷ ضلعو کښې مورنۍ ژبه د لازمي مضمون په توګه تر شپږم جماعت پورې وختي هم شتون درلود ۔ دغه ډول د اتلسم ترميم په ترڅ کښې د خېبر پښتونخوا حکومت يوه جامع او اوږد مهاله پلان جوړ کړ۔

په کومه سيمو کښې چې پښتو و ختي تر شپږمه ښوول کېده هلته به د کال څخه د۲۰۱۲

اووم جماعت ، کال ۲۰۱۳څخه اتم جماعت، کال ۲۰۱۴څخه نهم جماعت، ۲۰۱۵کال څخه لسم ، کال ۲۰۱۶ څخه فرسټ ائير او کال ۲۰۱۷څخه سيکنډ ائير په کالجونو پښتو د لازمي مضمون په توګه پېل کېږي.

هم دغه ډول کله چې په کال 2013کښې په بلوچستان ايالت کښې د پښتون بلوڅو ملت پالو حکومت جوړ شو نو د لازمي تعليم تر سرليک لاندي يو ايکټ منظور شو چې پکښې د پښتو په شمول د بلوچستان نورې پنځه ژبې هم صوبائي ژبې و ګرځول شوې او د پينځم ټولګي پوري ئې پکښې مورنۍ ژبه د يو اضافي مضمون په توګه معارفي کړل شو او په دې لړ کښې په زړه پوري پر مختګونه شوي دي. د اول ټولګي څخه دا کار را پېل شو چې تر دې دمه د څلورم ټولګي درسي کتاب جوړ شوې دئ چې په راتلونکي کال (2019)کښې به په ښوونځيو کښې ورته وئيل کېږي.

پښتو او نورې محلي/ځائي ژبې د تعليم يا زده کړې ژبې شي که يا؟ دا يو داسي پوښتنه ده چې تر دې دمه ډېر پښتانه او د پاکستان د نورو قوميتونو استازي ورته په ششو پنج کښې دي، د دې يو بنيادي لامل دا هم دے چې هغه ژبې چې د اختيار، طاقت، نورکرۍ يا روزګار ميندلو په ترڅ کښې ئې اثر او رول کم وي، خلک ئې د خپلو بچېانو لپاره نه غوره کوي. غالبا هم دغه خبره ده چې د بلوچستان په ذياترو ښوونځيو کښې د ايکټ پاسېدلو باوجود هم د مورنيو ژبو دغه اضافي مضمون نه ورته وئيل کېږي. د دې ليکني لپاره چې په کوټه کښې د ټيکسټ بک بيورو د کومو چارواکو سره د پښتو ژبې د زده کړې په حقله خبره وشوه نو هغوي هم دا خبره په تکرار سره کوله چې، چونکه ذياتره استاذانو تر ډېري مودې پوري په انګليسي يا اردو ژبو کښې درس ورکړئ دے، چونکه د ښوونکو د تربيت نظام او اداري ډېري پياوړې او موثره نه دي، او ښوونکو ته د ژبې ، کلتور، تاريخ، او شناخت په حقله ژور شعوري علم او ادراک نه وي ځکه هغوي ځائي ژبو ته اوس هم زړه نه ښه کوي اوبل پلو ته د کوشنيانو پلرونه مورنۍ ژبو ته د شک په نظر ګوري، ولي چې هغوي دا فکر کوي چې د لوړي طبقې کوشنيان په انګليسي، د مېنځنۍ طبقې لوستونکي په اردو او د نادارو او غريبو بچېانو ته پښتو يا نورې محلي ژبې ور زده کول يو لوے سازش دے(13).

پايله او وړانديزونه:

که څه هم پښتو ژبه د نړۍ په هغو ژبو کښې شمېرل کېږي چې و وجود ته ئې څه داسي خطر

نه دے پېښ چې د نورو کمزورو یا لږ ویونکي لرونکي ژبې وروسته مخامخ دي، خو په ریاستي او صوبائي سویه ئې اوس لا هم د حېثیت ستونزه هم هغه ده کومه چې د برټش انډیا یا د هغه وروسته د پاکستان د جوړښت په اوائلو کښې وه. د اتلسم ترمیم وروسته بنیادي کارونه د باچاخان فاونډېشن، پښتو اکېډمۍ پېښور او پښتو اکېډمۍ کوټې او نورو علمي و ادبي ټولنو او د درسي کتابونو جوړونکیو ټېکسټ بک بیورو لخوا پېوسته هلې ځلې په نظر راځي، خو ځنې خنډونو اوس لاهم په لاره کښې دي، چې و پښتنو ته زښت سیاسي اور علمي مبارزې بلنه ورکوي

د ژبې د حېثیت ستونزه چې څومره پارون مهمه وه، نن ئې هم اهمیت کم شوے نه دے. چونکه پښتانه د نړۍ په ګوټ ګوټ کښې اوسي، او یو ژوندے کلچر او روانه ژبه لريَ ، خو د ژبې د ژغورنې او پرمختګ لپاره دا کافي نه دے. په دې حقله د قانوني او آئني ژغورني داسي منظم غورځنګونو پکار دي بائید علمي،ادبي او تعلیمي ادارې ئې روزنه وکړي، لکه څه ډول چې د سندهي او بنګالي ژبو ژغورنه د غورځنګونو په سوب امکان و درلود هم دغه ډول د پښتو ژبې د برابرۍ د حېثیت لپاره د ژبې د غورځنګونو اهمیت ورځ تر ابله زیاتېږي

کوم پرمختګونه چې د اتلسم ائیني ترمیم په ترڅ کښې شوي دي، بائید هغه پر شا ونه تمبول شي، او ټولې سیاسي پارټېاني پر دې مجبوره کړل شي چې پخپل منشورونو او ائینونو کښې دي د ژبې د حېثیت په حقله خپل دریځ څرګند کړي.

د پښتو ژبې د معیار او د جدت ستونزي اوس لا هم هغه شاني شتون لري، بائید چې د ژبې د مقتدره ادارې پر جوړولو غور وشي او په دې حقله دي د کابل، پېښور او کوټي درې واړه اکېډېمیانې خپله شته مني سره شریکه کړي.

## References:


1) Rahman, T. (2001). The learning of Pashto in North India and Pakistan: An historical account. *Journal of Asian History*, *35*(2), 158-187..

2) Conley, J. M., O'Barr, W. M., & Riner, R. C. (2019). *Just words: Law, language, and power*. University of Chicago Press.

3) Bianco, J. L. (2004). 30 Language Planning as Applied Linguistics. *The handbook of applied linguistics*, 738. Khan, Dr. Muhammad Sohail (2018). *Bacha Khan Vision of Alternative Education*, Peshawar, p. 138

4) Shah, S. W. A. (2010). Abdul Ghaffar Khan. *Baacha Khan Trust Article Series*.

5) Rehman,T .(1999) *Language, Education and Culture*, Oxford University Press, Karachi 1999, p.66

6) Islam, R. (1978). The Bengali language movement and the emergence of Bangladesh. *Language and Civilization Change in South Asia. Leiden, EJ Brill*, 142-152.

7) Alavi, Hamza .(1958). *Conditions of Political Advance in Pakistan*', Pakistan Today (summer).

8) Rahman, T. (1999). *The Teaching of Pashto: Identity Versus Employment* (Vol. 46). Working Paper Series.

9) Rehman, T. *The Teaching of Pashto Identity Vs Employment*, SDPI working paper 1999,p.8

10) Rahman, T. (1997). The medium of instruction controversy in Pakistan. *Journal of Multilingual and Multicultural Development*, *18*(2), 145-154.

11) Zaidi, S. B., & Zaki, S. (2017). English language in Pakistan: Expansion and resulting implications. *Journal of Education & Social Sciences*, *5*(1), 52-67.

12) Ibid

13) Tarin, Shoukat, personal communication, May 15th, 2018.